چاچې په اسلام کې نیکي وکړه نو د جاهلیت په کړنو نه نیول کیږي، او چا چې په اسلام کې بدۍ وکړې نو په لومړۍ او دویمې دواړو سره نیول کیږي

له ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې وایي: یو سړي وویل: اې د الله رسوله، آیا د جاهلیت په کړنو سره نیول کیږو؟ هغه وفرمایل: «چاچې په اسلام کې نیکي وکړه نو د جاهلیت په کړنو نه نیول کیږي، او چا چې په اسلام کې بدۍ وکړې نو په لومړۍ او دویمې دواړو سره نیول کیږي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په اسلام کې د داخلېدو فضیلت بیانوي، او دا چې چا اسلام قبول کړ او ښه مسلمان شو او صادق او رښتینی و؛ نو د جاهلیت په زمانه کې د ګناهونو حساب به ورسره نه کیږي، او چا چې په اسلام کې بدي وکړه؛ چې منافق و یا له خپل دین څخه مرتد شو؛ نو له هغه سره به د هغو عملونو حساب وشي چې په کفر کې یې کړي دي او هغه چې په اسلام کې یې له - بدو عملونو - څخه کړي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65002